# أَقْرَبُ مَا يَكُونُ الرَّبُّ مِنَ العَبْدِ فِي جَوْفِ اللَّيْلِ الآخِرِ

له ابو امامه رضي الله عنه نه روايت دی وايي چې عمرو بن عبسة رضي الله عنه له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه اورېدلي چې فرمايل يې: «أَقْرَبُ مَا يَكُونُ الرَّبُّ مِنَ العَبْدِ فِي جَوْفِ اللَّيْلِ الآخِرِ، فَإِنْ اسْتَطَعْتَ أَنْ تَكُونَ مِمَّنْ يَذْكُرُ اللَّهَ فِي تِلْكَ السَّاعَةِ فَكُنْ». "د نيمايي شپې په وروستۍ برخه کې الله تعالی بنده ته تر ټولو زيات نږدې وي، نو که دې وکولی شول له هغو خلکو شې چې هغه شيبه کې الله يادوي نو شه".
[صحيح]

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي چې د شپې په وروستۍ دريمه برخه کې الله تعالی بنده ته ډېر نږدې وي؛ نو اې مؤمنه! که موفَق شوې او ودې کولی شول چې په دغه وخت کې له عبادت کوونکو، لمونځ کوونکو، ذکر کوونکو او توبه کوونکو څخه شې، نو دا يو فرصت دی چې له لاسه ورکول يې په کار نه دي، او بايد کوښښ پکې وشي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3236

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee